**د مسؤلیت د رفع کولو یادښت:** دا سند په غیر رسمي شکل له یو رسمي سند څخه ژباړل شوی دی، مګر ژباړه یې د هیڅ دولتي ادارې لخوا نه ده تائید شوې. کیدای شي ټوله هڅه د ژباړې د کره کولو د ډاډ لپاره شوې وي. مګر دا هم امکان لري چې د اصلي سند او ژباړې ترمنځ د کلماتو په ټاکلوکې نواقص یا توپیرونه موجود وي.

**د افغانستان اسلامي امارت**

**ستره محکمه**

**د دارالانشاء عمومي ریاست**

**د تحریراتو آمریت**

**د متحدالمآل څانګه**

**د متحدالمآل ګڼه: ۳۱** **نېټه: ۱۸ /۴ / ۱۴۴۴ هـ ق**

**د افغانستان اسلامي امارت د تمیزونو، دیوانونو، مرافعه او ابتدائیه محکمو ریاستونو محترمو منسوبینو ته!**

**السلام علیکم ورحمت الله و برکاته**

**وبعد:** د افغانستان اسلامي امارت د محترم عالي مقام هدایت سره سم، په هر ولایت کې د تېرې ادارې د ناتطبیق شویو قطعي او نهائي پرېکړو د بیاکتنې په موخه قضائي پلاوی ټاکل شوی و او د یاد پلاوي کاري کړنلاره د افغانستان اسلامي امارت د تائیدۍ وروسته د سترې محکمې د دارالانشاء عمومي ریاست د ۱۴۴۴/۲/۲ هـق نېټې د (۱۳) ګڼه متحدالمآل په ذریعه ټولو محکمو ته استول شوی چې د یادې کړنلارې په دویمه ماده کې د تېرې ادارې یوازې د ناتطبیق شویو قطعي او نهائي پرېکړو د بیاکتنې یادونه شوې ده.

د افغانستان اسلامي امارت د محترم عالي مقام له خوا د سترې محکمې محترم مقام ته په شفاهي بڼه هدایت ورکړل شوی دی چې د اسلامي مارت په محکمو کې د تېرې ادارې د پاتې دوسیو په هکله دې لاندې ترتیب په پام کې ونیول شي:

((د پخوانۍ ادارې هغه دوسیې چې یوازې ابتدائیه پړاو یې تېر شوی وي، یا هم ابتدائي او استینافي پړاوونه یې تېر کړي وي، یا هم ابتدائیه، استیناف او تمیز یې تېر کړی، خو تطبیق شوې نه وي او محکوم علیه د بیاکتنې غوښتنه وکړي، یا محکوم له د تطبیق غوښتنه وکړي؛ په ټولو صورتونو کې دې دوسیه د دعوې د یوه لوري د مراجعې وروسته د یادې کړنلارې دولسمې مادې سره سم په هر ولایت کې د استیناف محکمو له لارې پورته لیکلي قضائي پلاوي ته واستول شي.

په هر ولایت کې دې قضائي پلاوی د پورته یادې کړنلارې مطابق د یادو دوسیو ارزونه ترسره کړي. که د تېرې ادارې د محکمو پرېکړې له شرعي اصولو سره برابرې وې، هغه دې تائید کړي او که په شرعي اصولو برابرې نه وې، هغه دې نقض کړي او تر نقض وروسته دې د قضیې دواړه لوري راوغواړي او د هغوی په شتون کې دې د شرعي اصولو په رڼا کې خپله شرعي پرېکړه صادره کړي او د تطبیق په موخه دې اړونده مرجعې ته واستول شي.

بناءً، د افغانستان اسلامي امارت د عالي محترم مقام هدایت د دې متحدالمآل په ذریعه د افغانستان اسلامي امارت د تمیزونو، دیوانونو، مرافعه او ابتدائیه محکمو محترمو ریاستونو ته واستول شو تر څو په رڼا کې یې شرعي او اصولي اجراأت وشي.

**یادښت:** هغه لیکونه او متحدالمآلونه چې تر دې متحدالمآل وړاندې صادر شوي او له دې متحدالمآل سره په ټکر کې واقع شي، لغوه دي او د عمل وړ نه دي.

دا سند د حقوقو د پراختیا نړیوال سازمان (IDLO) په واسطه د افغانستان د قانون د حاکمیت څارونکې ویبپاڼه (ARLO) پروژې لپاره ژباړل شوی دی. د ARLO په اړه د نورو مالوماتو ترلاسه کولو لپاره مهرباني وکړئ زمونږ ویبپاڼې www.arlo.online ته لاړ شئ.

**د مسؤلیت د رفع کولو یادښت:** دا سند په غیر رسمي شکل له یو رسمي سند څخه ژباړل شوی دی، مګر ژباړه یې د هیڅ دولتي اداري لخوا نه ده تائید شوې. کیدای شي ټوله هڅه د ژباړې د کره کولو د ډاډ لپاره شوې وي. مګر دا هم امکان لري چې د اصلي سند او ژباړې ترمنځ د کلماتو په ټاکلوکې نواقص یا توپیرونه موجود وي.

**په درناوي**

**مفتي عبدالرشید "سعید"**

**د دارالانشاء رئیس**

دا سند د حقوقو د پراختیا نړیوال سازمان (IDLO) په واسطه د افغانستان د قانون د حاکمیت څارونکې ویبپاڼه (ARLO) پروژې لپاره ژباړل شوی دی. د ARLO په اړه د نورو مالوماتو ترلاسه کولو لپاره مهرباني وکړئ زمونږ ویبپاڼې www.arlo.online ته لاړ شئ.